# د افغانستان اسلامي جمهوریت

# او

# فنلنډ جمهوریت

# ترمنځ

# د همکارۍ موافقه لیک

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او فنلنډ جمهوري دولت (چې لدې وروسته به د لوريو په نوم ياديږي)،

د ملګرو ملتونو په منشور کې د ذکر شويو اصولو پر بنسټ؛

سولې، ولسواکۍ، بشري حقونو او د قانون واکمنۍ ته د درناوي په اړه پر خپلو ژمنو په *بياټينګار* سره؛

په يوه باثباته او خوندي سيمه کې د يوه باثباته او خوندي افغانستان موخې ته د رسيدو لپاره د افغانستان اسلامي جمهوريت او د خپلو سيمه ييزو او نړيوالو متحدينو ترمنځ د روانو ګډو هڅو د اړتيا په *تائيد سره*؛

د ۲۰۱۱ کال د د سمبر مياشتي د بن کنفرانس، د ۲۰۱۲ کال د مى مياشتي د شيکاګو غونډې او د ۲۰۱۲ کال د جولاى مياشتې د ټوکيو کنفرانس په ګډون، په يو لړ نړيوالو کنفرانسونو کې د لوريو له خوا د افغانستان د ټيکاو او پاييدونکې پرمختيا په اړه پر دوه اړخيزو ژمنو په *ټينګار سره*؛

د لوريو ترمنځ د ملګرتيا او همکارۍ د دود *درک کول* او د يوې اوږد مهالې همکارۍ د رامنځته کولو په برخه کې پر خپل هوډ په *ټينګار سره*؛

ملي واکمنۍ، خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيا ته د درناوي په ګډون، د نړيوالو قوانينو عمومي اصولو ته د درناوي په برخه کې په خپلو ژمنو په *بياټينګار سره*؛ او

ددې په *درک کولو سره* چې په افغانستان کې اوږدمهاله ټيکاو په سياسي، اقتصادي او ټولنيز پرمختګ پورې تړلى ده، او دا چې سيمه ييزه همکاري د افغانستان د ټيکاو او اقتصادي ودې پخاطر د يوه مساعد چاپيريال د رامنځته کولو په موخه هم اهميت لري؛

له دې امله، د دغو دوو خپلواکو هيوادونو ترمنځ او خپلو ګډو ګټو ته د دوه اړخيز درناوي پر بنسټ، لوريو د يوې اوږد مهاله ستراتيژيکې همکارۍ چې لاندينۍ برخې به په برکې ونيسي، په رامنځته کولو هوکړه وکړه:

## ۱ ماده

## سیاسي او اقتصادي همکاري

1. لوریو د ګډو اندیښنو د موضوعګانو په برخه کې د نظریاتو په تبادلې او د ګډو لاربښودونو د رامنځته کولو په اړتیا ټینګار وکړ.
2. ددې په درک کولوسره چې په افغانستان کې اوږد مهاله ټیکاو کیدای شي چې یوازې د یوه هر اړخیز او ټول شموله سیاسي بهیر له لارې چې پکې ټول افغانان ونډه ولري ترلاسه شي، د فنلنډ حکومت به تر خپلې وسې هڅه وکړي چې د افغانستان د حکومت ملاتړ روان وساتي ترڅو د یوه هر اړخیز او ټول شموله بهیر له لارې چې ټول افغانان په کې ونډه ولري روغه جوړه ترلاسه شي. د فنلنډ حکومت همداراز په دې برخه کې د سولې د عالي شورا د هڅو ملاتړ کوي. لوریو هوکړه وکړه چې دغه سیاسي بهیر باید د افغانانو په مشرۍ، ملکیت او د بشري حقونو د نورمونو او په هغې کې د ښځو د حقونو د ضمانت په ګډون، د افغانستان د اساسي قانون د اصولو پر بنسټ وي.
3. لوریو نړیوالو قوانینو او په سوله ییزه توګه د هیوادونو ترمنځ د شخړو حل او اوارولو ته پر خپلو ژمنو بیاټینګار وکړ. دوی افغانستان او د هغې نه ها خوا سیمې ته د تروریزم او د تاوتریخوالي ډکې بنسټ پالنې له امله د متوجه ګواښونو د مخنیوي په برخه کې خپل هوډ څرګند کړ.
4. لوري په افغانستان کې د امنیت د ښه والي په موخه د نړیوالې مرستې اهمیت درک کوي. دوی د پاییدونکو او مسلکي افغان ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو د هڅو د لړۍ د رواني ساتنې په اړتیا هوکړه وکړه چې د افغانستان د اساسي قانون سره سم به خپل فعالیت کوي او د بشر د نړیوالو حقونو معیارونو ته به درناوی کوي. د فنلنډ حکومت په دې موخه د جوړ شویو نړیوالو جوړښتونو له لارې دغه بهیر سره مرسته روانه ساتي. په ۲۰۱۲ کال کې په شیکاګو کې د ناټو-آیساف غونډه کې د خپلو کړیو ژمنو سره په غیر متناقضه توګه به د فنلنډ حکومت د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غښتلتیا په موخه مالي مرسته برابروي.

## ۲ مه ماده

## پرمختیایي همکاري

1. په کابل، بن او توکیو کنفرانسونو کې د شویو دوه اړخیزو ژمنو پر ادامه، د لوریو ترمنځ پرمختیایي همکاري به، د افغان ولسواکۍ په غښتلتیا ، د ښې حکومتوالۍ په پیاوړتیا او د قانون واکمنۍ اصل ته د نورو څیزونو ترڅنګ د سیمه ییزې او محلي حکومتوالۍ، د افغانستان د خپل اقتصادي فعالیت او مشارکتي اقتصادي ودې په موخه د شرایطو د ښه کولو، او همداراز په پایداره توګه د طبیعي زیرمو څخه د ګټې اخیستنې له لارې، تمرکز کوي. د بشري حقونو ، برابرۍ او همداراز د ښوونې په ځانګړې توګه د نجونو دښوونې اړونده موضوعاګانې د اجنډا په سرکې ځای

لري. اصلي موخه د يوې داسې ټولنې رامنځته کول دي چيرته چې ټول افغانان وکولی شي يو ښه، لاخوندي او لا هوسا هيواد جوړ کړي.

2. په ټوکيو کې د خپلو کړيو ژمنو سره سم به د فنلنډ حکومت د پارلمان د تصويب په شرط،د ۲۰۱۴ کال وروسته او د بدلون په لسيزه کې د اوږد مهال لپاره د پرمختيايي مرستې د برابرولو له لارې د افغانستان ملاتړ کوي. د فنلنډ حکومت دغه ژمني به د هغو اقداماتو په بشپړه توګه د پلي کولو سره مشروطې وي چې افغان حکومت په کابل، بن او ټوکيو کنفرانسونو کړيدي او د ټوکيو د دوه اړخيزې ځوابوينې په چوکاټ کې بيان شويدي.
3. د افغان حکومتد پرمختيايي لومړيتوبونو د ملاتړ په موخه د کابل کنفرانس د ژمنو او ټوکيو اعلاميې سره سم، فنلنډ حکومت د خپلې مرستې ۵۰ سلنه د افغانستان د ملي بودجې له لارې لګوي. د فنلنډ حکومت همداراز د خپلې مرستې ۸۰ سلنه د افغان حکومت د ملي لومړيتوب پروګرامونو، او د مرستې مديريت پاليسی (۲۰۱۳)سره سم لګوي، د يوې داسې لارې په توګه چې ښه اغيزه ولري
4. د فنلنډ حکومت به د خپلو پيسو ځيني برخه د غير دولتي مؤسسو له لارې د لګولو لړۍ روانه ساتي او ژمن ده چې د بشري مرستې په ځانګه کې دپام وړ برخه ولري.
5. د پرمختيايي همکارۍ نورې برخې د يوه بيل تفاهم يادداښت له لارې ټاکل کيږي.

**۳ مه ماده**

**حکومتوالي او د قانون واکمني**

1. لوريو د ښې حکومتوالی او د فساد په وړاندې د مبارزې د موضوعګانو په اړه په کابل بهير او د افغانستان په ملي پرمختيايي ستراتيژۍ کې ذکر شويو موخو او اصولو ته پر خپلې ژمنې بياټينګار وکړ. لوريو د افغانستان لپاره په ملي او محلي کچه د پياوړو، رڼو او ځواب ويونکو بنسټونو د جوړولو په اړتيا ټينګار وکړ.
2. دواړو لوريو د بيان د آزادۍ په ګډون ولسواکۍ او بشري حقونو ته پر خپلو ژمنو بياټينګار وکړ، او د ښځو حقونو ته پياوړتيا ورکول چې د پوهنې حق، د کار حق او په ټولنيز، سياسي او کلتوري ژوند کې د برخې اخيستلو د حق په ګډون دوی په ټولنه کې برابره ونډه ولري. لوري د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو په اړه کنوانسيون (CEDAW) او د ښځو، سولې او امنيت په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا پريکړه ليکونو (۱۳۲۵، ۱۸۸۸،۱۸۲۰، ۱۸۸۹، ۱۹۶۰) پلي کولو ته ژمن پاتې دي. د دوه اړخيز باور او همکارۍ پر بنسټ لوريو د ملګرو ملتونو د پورته ذکر شويو پريکړه ليکونو په برخه کې پر دوه اړخيزه همکارۍ هوکړه وکړه. د ۱۳۹۰ لمريز کال د غبرګولی په ۳۰ مه د لوريو ترمنځ د تفاهم يو يادداښت لاسليک شوی وو او دغه يادداښت د ۱۳۹۱ لمريز کال د وږی په ۱۳ نوی شو.
3. افغانستان د سراسري او رڼو ټاکنو چې مشروعيت ولري په ګډون، د يوه پراخ بنسټه او کثرت ګرا (Pluralistic) ولسواکه حکومت د جوړولو په برخه کې پر خپلې قوي ژمنې بياټينګار وکړ. د

۲۰۱۱ کال د بن په کنفرانس کې د خپلو کړیو ژمنو په بیاتازه کولو سره، افغانستان به خپل ټاکنیز بهیر پیاوړی او غښتلی کوي.

4. د فنلنډ حکومت د اصلاحاتو، بنسټونو جوړونې او د بنسټیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د یو اوږد مهاله، ډاډمن او ټینګ متحد پاتې کیدو له لارې د افغانستان د هڅو ملاتړ کوي. د فنلنډ حکومت همداراز د هغو نوښتونو ملاتړ کوي چې په ټولنه کې د افغان ښځو او ځوانانو رول، په ځانګړې توګه د سیاسي پریکړو کولو بهیرونو او اقتصادي فعالیتونو کې د هغوی رول، ، پیاوړې کوي.
5. لوریو تائید کړه چې د قانون د واکمنۍ پر بنسټ د یوه باثباته او خوندي افغانستان لپاره د یوه اغیزمن او ځواب ویونکي پولیسي ځواک اړتیا ده چې وکولی شي د افغان ولس بنسټیزې امنیتي اړتیاوې پوره کړي. افغان حکومت د دغه ډول پولیسي ځواک د جوړلو په موخه د خپلو هڅو روان ساتلو ته ژمن ده. د فنلنډ حکومت به د دغه بهیر سره، افغانستان سره د خپلې ملکي مرستې د یوې برخې د افغانستان لپاره د قانون او نظم د پیسو صندوق(LOTFA) د لګولو له لارې چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام له لوري تنظیمیږي، مرسته وکړي.

## ۴ مه ماده

## اقتصادي همکاري

1. لوریو تائید کړه چې اقتصادي پرمختیا، د دندو پیدا کول او د بیوزلۍ کمښت د یوه باثباته او خوندي افغانستان لپاره مخکیني شرطونه دي. په دې موخه به لوري په افغانستان کې د پانګونې او د مشارکتي اقتصادي ودې لپاره د شرایطو په ښه والي کې همکاري کوي. افغان حکومت تائید کړه چې د دې لپاره د وړو او اغیزمنو قانوني چوکاټونو، د زیاتو مالیو د عوایدو او د اقتصاد د مناسب اقتصادي او مالي مدیریت په ګډون، د بهرنۍ پانګونې په موخه د یوه متمایله چاپیریال د رامنځته کولو او همداراز د زیربناګانو پرمختیا او ښه امنیت اړین دي. په دې موخه به افغانستان مناسب ګامونه پورته کړي.
2. د فنلنډ حکومت د افغانستان د پاییدونکي پرمختیا په پیاوړتیا کې مرسته کوي او هڅه کوي چې د افغان ولس د ګټې پخاطر، د طبیعي زیرمو د پاییدونکې پرمختیا په موخه د افغان حکومت وړتیا په لوړولو کې مرسته وکړي. لوري د طبیعي زیرمو په کار اچونې، انکشاف، پروسس او بازار موندنې په برخه کې د همکارۍ او لوړتیا لوړولو په غښتلتیا هوکړه کوي.
د پرمختیایي همکارۍ نورې برخې د یوه بیل تفاهم یادابنت له لارې ټاکل کیږي.

## ۵ مه ماده

## سیمه ییزه همکاري

1. لوریو تائید کړه چې د یوه باثباته او خوندي افغانستان لپاره یو مساعد سیمه ییز چوکاټ اړین ده. له دې امله، دوی د سیمه ییزې همکارۍ د پیاوړتیا په اړه په همکارۍ هوکړه وکړه ترڅو په مختلفو سیمه ییزو سازمانونو، بهیرونو او غونډو کې د افغانستان رول غښتلی شي.
2. لوري په دې آند دي چې د افغانستان او د دې د نږدې او لرې پرتو ګاونډیانو ترمنځ د باور جوړوني او همکارۍ د پیاوړتیا په برخه کې، د استانبول بهیر یو مهم نوښت ده. په دې برخه کې دوی د ۱۳۹۱ کال د غبرګولي په ۲۵ د آسیا زړه هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو د کنفرانس د پایلو څخه هرکلی وکړ او په دې یې هوکړه وکړه چې د استانبول بهیر باید په اساسي توګه د هغو هیوادونو له لوري چې نیغ ورسره تړاو لري، غښتلی شي. له دې امله دوی د آسیا زړه هیوادونو څخه غوښتنه وکړه چې د ۲۰۱۱ کال د نومبر په میاشت کې په استانبول کې د هوکړه شویو اصولو پر بنسټ یوه پراخه سیمه ییزه همکاري رامنځته کړي. د فنلنډ حکومت د استانبول بهیر د پراختیا نه ملاتړ کوي.

**۶ مه ماده**

**کډوالي**

1. لوري به د انسان د ترافیک او قاچاق په وړاندې مبارزه کې په ګډه سره کار کوي. لوري به د غیر قانوني کډوالۍ او د یو بل په خاوره کې د افغان او فنلندي وګړو د غیر قانوني اشخاصو فزیکي حضور د مخنیوي په موخه به نږدې همکارۍ ته دوام ورکوي او د دغه ډول غیر قانوني اشخاصو خپل هیواد ته په بیرته راستنیدنه کې به اسانتیا برابروي. په دې موخه لوري په پام کې لري چې د تفاهم یو یاداښت چې د بیرته راستنیدنې مفصل ترتیبات به په برکې ونیسي، لاسلیک کړي.

**۷ مه ماده**

**وروستني احکام**

1. دغه موافقه لیک به د ۱۳۹۶ کال د جدی تر ۱۰ پورې یا که چیرته د لوریو څخه د یوه لوري له اړخه په لیکلې بڼې فسخ شوی یا یې د همکارۍ یو نوی موافقه لیک تعویض شوی نه وي، نافذ وي. دواړه لوري د دغه موافقه لیک د تطبیق د کتنې په موخه په منظمه توګه په کال کې لږ تر لږه یوځل د لوړپوړو چارواکو په کچه سره لیده کاته کوي.
2. د فنلنډ د دوه اړخیزې پرمختیایي مرستې مقدار او موخې به په منظمو فاصلو کې کتل کیږي. دغه ډول کتنه به، د افغانستان د حکومت له لوري د ښې حکومتوالۍ، شفافیت، بشري حقونو، ولسواکه کولو او د قانون د واکمنۍ په برخه کې د ژمنو په ګډون، د لوریو له اړخه د دغو ژمنو د پلي کولو په تړاو د پرمختګ د ارزونې پر بنسټ وي.

دغه موافقه لیک به د دواړو لوریو له اړخه د دې د لاسلیک څخه وروسته په ۳۰ ورځو کې نافذیږي.

د پورتنیو مراتبو په ګواهۍ سره، لاندې ذکر شویو لاسلیک کوونکو ته مناسب واک ورکړل شوی چې دغه موافقه لیک لاسلیک کړي.

په ..............................په............................نیټه په دوو نسخو، په دری، پښتو، فنلنډي او انګلیسي ژبو لاسلیک شو، ټول متنونه یو ډول د اعتبار وړ دي. په تفسیر کې د اختلاف په وخت کې به لومړیتوب انګلیسي متن ته ورکول کیږي.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په استازیتوب　　　　د فنلنډ جمهوري دولت په استازیتوب